مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۸/۰۲/۰۹

ازادي، ازادی ازادي!

دا هغه چیغه ده چې په اسلام اباد کې د راټولو شویو او راویښ شویو پښتنو له خولې دا څو ورځې سر په سر د هغوی له حنجرې څخه راوزي، د هغه پښتنو له خولې کوم چې نږدې یونمه پیړۍ وړاندې(۱۸۸۳ م) د یو ظالمانه عمل چې د وخت د انګلیس استازی ډیورنډ لخوا د برو پښتنو څخه جدا کړل شوی دي، دا نو اوس د برو پښتنو دنده او وجیبه ده چې لر افغانان د خپل هیواد افغانستان سره او د خپل هډ او وینې سره یو ځای کړي.
خبره به سپینه او په ډانګ پیلي کوو له هغه ورځې چې د لر(پښتونخوا افغانان)، برو افغانانو پر انګریز باندې خرڅ کړل همدارنګه په ډیر ظالمانه ډول انګریز د بر (افغانستان) څخه جدا کړل تر نن ورځې پورې برو افغانانو پر ډیورنډ کرښه او همدغه د کوزې خوا پر افغانانو یوازې او یوازې سیاست کړی دی، له تشو شعارونو، چل او پریب یې تر نن څخه بل هیڅ کار نه دی کړی، پداسې حال کې چې د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو لپاره په وار وار ښې موقع هم په لاس ورغلی وي، خو بدبختانه ګټه یې نه ده ترینه اوچته کړی لکه د پاکستان او هند جګړې همدارنګه هغه وخت چې بنګلادیش د پاکستان څخه جدا شو .

د افسوس او د شرم خبره خو لا دا ده کله چې بنګلادیش د هند په مرسته د پاکستان څخه جدا کیده د افغانستان د وخت ټول واک پنجاب ته ډاډ ورکړ او ورته یې وویل چې زموږ لخوا څخه بیغمه او ډاډه اوسئ مو پر تاسو حمله نه کوو.
د افغانستان لپاره بل طلایي چانس په ډیر افسوس سره کوم چې د لاسه وتلی دی هغه ورځ وه په کومه ورځ چې حرامونی پاکستان د هند له بتن څخه وزیږید، په هغه ورځ د افغانستان د وخت حکومت ته پکار وه چې خپل بیرغ یې پر خپله خاوره چې د اټک وراخو مرګله ده پورته کړی وای.

دا یوازې د بر افغان سیاستوال نه دي چې پر لرو افغانانو یې تر نن پورې یوازې سیاست کړی دي، همدغه ډول د کوزې خوا پښتنو مشرانو هم د کابل د سیاستوالو په شان تش په خوله د لر او بر شعار ورکړی دی، خپل ولسونه یې غولولي دی نور یې هیڅ هم نه دي کړی. ځکه خو موږ په اسلام اباد کې راویښ شوی پښتنو ته وړاندیز کوو چې نور د مشرانو پر تش شعارونو مه غولیږئ، ستاسو لپاره پکار ده چې د خپل منځ څخه نوی داسې مشران وټاکی چې د هغوی سره په رښتیا د پښتون غم وي، په رښتیا د پښتون درد خپل درد بولی او په رښتیا د پښتون بې عضتی د ځان عضت بولي.

موږ د کابل پر ټولو سیاستوالو همدا نګه ټولو قومي مشرانو، مدنی ټولنو،لیکوالانو، په ځانګړي توګه د افغان میډیا څخه غواړو چې همدغه د ازادي ازادي اواز واورئ او ملاتړ یې وکړئ، تش په خبرو لر او بر یو افغان نه شی جوړیدلای عمل او قربانی ته اړتیاده، افغانان باید دغه تا ریخي فرصت له لاسه ورنه کړي، باید چې محکومه پښتونخوا د تل لپاره د ظالم پنجاب څخه خلاصه کړي.

ایا د انقلاب لپاره ښه موقع نه ده!؟

کله چې په کوم ځای کې انقلاب یا بدلون راځی دوه شیان اړین دی، یا په بله وینا د انقلاب لپاره دوه شیان ضروری دي تر څو انقلاب یا بدلون راوستل شی چی هغه غبارت دی له:

۱ /عیني شرایط

۲ /ذهني شرایط

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عيني شرايط خو موږ وينو چې بلکل برابر دي، پدې معني چې پښتون په دغه ورستيو څو کالونو کې سخت تر فشار لاندې دی، ځکه پنجاب ځانمرګی په پښتنو کې روزي بيا همدغه ځانمرګی په پښتنو کې الوزوي، همدارنګه د پښتنو کورونه،کلی او بازارونه د پنجاب لخوا تبا او برباد شول(صوات، وزيريستان، اورکزي). پښتانه د پنجاب لخوا وژل کيږی، بنديان کيږي بې عزته کيږی خو څوک يې هم غم نه کوي.

د پښتنو زيرمی لکه تيل اوګاز پنجاب مصرفوی پداسې حال کې چې پښتانه تر اوسه توري شپې ته ناست دی په خوشايو ډوډی پخوي، ځکه خو موږ ويلای شو چې پښتانه په عيني لحاظ بلکل انقلاب ته تيار دي. د خدای فضل دي پښتانه اوس د پنجاب په نيت پوهه شوی دی، د پنجاب ظلم،ستم، وژنه، بنديان کول، پشتنو ته د پنجاب لخوا بې عزتي رسول همدارنګه د پښتنو ټول حقه حقوق تر پښو باندې کول همدارنګه د پښتانو کلي او بنډي د پنجاب پوځ لخوا د خاورو سره برابرولو پر ټولو باندې اوس د پښتنو سرونه خلاص شوی دي، دا پدې معنی چې د انقلاب دوهم شرط هم پوره شوی دي.

ځکه خو لرو او برو افغانانو ته پکار ده چې په اسلام اباد کې د راټولو شويو او ويښو پښتنو همدغه د ازادي، ازادي،ازادي چيغه په ربښتيا د ازادۍ پر چيغه بدله کړی.

افغان سياستوال بايد موقع د لاسه ورنه کړي، همدارنګه موږ د کوزې پښتونخوا مشرانو لکه محمود خان اڅکزي، اسفنديار، افتاب شيرپاو او نورو مشرانو غواړو چې پښتانه نور د تور ښامار پنجاب له ظلم او ستم څخه خلاص کړی ازادي واخلي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ